**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د حزب التحرير پر وړاندې د نور «حامد» ورور ادعا ته ځواب**

**(ژباړه)**



يوه مرکه چې د "المزهر السياسي" خبري شبکې په واسطه له ښاغلي نور«حامد» سره شوې وه او د ۲۰۱۷م د سپټمبر پر۱۰، ۱۱ او ۱۲مه يې خپره کړه، نوموړي د حزب التحرير او د راشده خلافت د بيا تاسيس په اړه خبرې وکړې او دغه حزب او نور اسلامي حزبونه يې داسې معرفي کړل، چې ډېر له حقيقته لرې دي او د نوموړي دغه کړنه له حزب التحرير او د دوی له افکارو او مفاهيمو څخه د هغه؛ ناسم درک ښيي. له تاسو رسنيو څخه به خوشاله شو چې ځواب يې خپور کړئ.

د نور حامد ورور له خبرو څخه په نقل: «د حزب التحرير، طالبانو او بوکو حرام ډلو په واسطه د اسلامي خلافت بيا تاسيس يوازې هغه شعار دی، چې د غرب د زيات ورځني پرمختګ او د اسلامي خاورو د اشغال پر وړاندې د عکس العمل پر اساس رامنځته شوی دی. هغه کسان چې د خلافت د بيا تاسيس شعارونه ورکوي، يوازې د دوی ديني احساسات دي چې پر علم او عقل يې غلبه کړې او دې پايلې ته رسېدلي. د اسلامي حاکميت يا د خلافت د تاسيس شعارونه هغه ګونګ شعارونه دي، چې د مسلمانانو له احساساتو څخه سرچينه اخلي او که عملي بڼه ونه لري، نو هېڅ اغېزمن نه دي.»

که عميق فکر وکړو، نور ورور خپل ځان د اسلام د لېږدوونکو او د خلافت د شبابو قاضي ټاکلی دی. دی سره له دې چې د دموکراسۍ د نظام پر نيمګړتيا او فساد پوهيږي؛ خو بيا يې هم دغه نظام د اسلام لپاره بديل وړاندې کړی او وايي: موږ بايد د داسې

ډېموکراسۍ اړوند تولنیز او اقتصادي پرمختګونه وکړو، چې غرب مو په چارو کې مداخله و نه کړي او ځان د دوی له افکارو څخه ازاد کړو.»

زموږ نصیحت هغو ته چې ډېموکراسۍ غولولي او غربیانو ګنکس کړي، دا دی: هغه څه ته، چې موږ اړتیا لرو، هغه د غرب له مداخلې پرته ډېموکراسي نه ده، بلکې هغو افکارو او مفاهیمو ته اړتیا لرو، چې مسلمانان په پوره ډول د غرب له تقلید، کلتور او مفاهیمو څخه ژغوري، چې دا یوازې د هغوی له وژونکو زهرو څخه د ژغورنې رښتینې لار ده. د نور ورور د ادعا په ځواب کې باید ووایم:

لومړی: د اسلامي خلافت تاسیس یوازې د حزب التحریر شعار نه دی، بلکې دا د الله سبحانه وتعالی له لوري فریضه ده. لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللّهُ إِلَيْكَ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيراً مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ﴾**

[مائده: ۴۹]

*ژباړه: نو اې محمده صلی الله علیه وسلم! د دوی ترمنځ په هغه څه حکم وکړه چې الله سبحانه وتعالی پر تا نازل کړي دي، د دوی د غوښتنو پیروي مه کوه او پام دې وي چې دغه خلک تا په فتنه کې وانه چوي، له هغه هدایت څخه چې الله سبحانه وتعالی تا ته درلېږلی د یوې ذرې په اندازه دې هم وانه ړوي. نو که دوی مخ ورڅخه واړوي وپوهېږه، چې الله سبحانه وتعالی د دوی د ځینو ګناهونو په سبب په مجازاتو د هغوی د اخته کېدو اراده کړې ده او دا حقیقت دی چې له دغو خلکو څخه ډېری یې فاسقان دي.*

دغه ټکی باید هېر نشي، د هغه څه تطبیق چې الله سبحانه وتعالی یې امر کړی پرته له خلافت څخه امکان نه لري. په دې اړه پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي.

**«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فَتَكْثُرُ، قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: فُوا بِبَيْعَةِالْأَوَّلِ، فَالْأَوَّلِ، وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ، فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُم»**

(رواه مسلم)

*ژباړه: د بني اسراییلو مشري به پیغمبرانو کوله او هر کله به چې پیغمبر وفات شو، بل پیغمبر به د هغه ځای ناستی شو؛ خو له ما څخه وروسته به بل پیغمبر نه وي، بلکې خلفا به وي او شمېر به یې ډېر زیات شي، وویل شول: نو په هغه حالت کې موږ ته څه امر کوې؟*

*ويې ويل: په لومړي بيعت سره، د لومړي حق ادا کړئ او الله سبحانه وتعالی به له دوی څخه د هغه څه په اړه چې پرې ګومارلي يې دي پوښتنه وکړي.*

**«مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ، لَقِيَ اللَّهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ، وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً»**

(رواه مسلم)

***ژباړه:*** *چا چې د خليفه له اطاعت څخه سرغړونه وکړه، د قيامت په ورځ به له الله سبحانه وتعالی سره په داسې حال کې مخ شي، چې کوم دليل به نه لري او که هر څوک په داسې حال کې مړ شي، چې له امام يا خليفه سره يې بيعت نه وي کړي، د جاهليت په مرګ مړ شوی دی.*

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً﴾**

[بقره: ۳۰]

*ژباړه: زه به په ځمکه کې ځای ناستی وټاکم.*

امام قرطبي رحمه الله په دې اړه وايي: دغه ايت د ځمکې پر مخ د خليفه د ټاکلو د وجوب دليل دی، له هغه څخه اطاعت او له دستوراتو څخه دې پيروي وشي. د مسلمانانو او امامانو تر منځ د خليفه په ټاکلو کې هېڅ اختلاف نشته.

دويم: د غرب پرمختګ په ټولو برخو کې پوره پرمختګ نه دی؛ بلکې برعکس د حيواني ژوند له تګلارې، بد اخلاقۍ او سطحي فکرۍ پرته يې د بشريت لپاره بل څه نه دي ډالۍ کړي. دا چې د غرب د پرمختګ اساس د علم او ټکنالوژۍ پايله ده، تاسو ونه غولوي؛ ځکه دغه دواړه څېزونه له هغې ايډيولوژۍ سره، چې غرب يې لېږدوي، هېڅ تاثير نه لري او تر نن ورځې پورې يې خپل پيروان نه دي قانع کړي. لکه څنګه، چې روسيې هم په خپله زبرځواکۍ کې له علم او ټکنالوژۍ سره سره ونه شو کولی د بشريت او خپلو پيروانو ستونزه په سمه توګه حل کړي.

که څه هم د روسيې کمونستي نظام د غرب له پانګوال نظام سره په ټکر کې دی او ورسره توپير لري، خو بيا هم دغه نظام په خپل پيدايښت کې د پانګوال نظام په څېر بشري ريښه لري او ويې نشو کولی نړۍ رهبري کړي. همداراز د چين هېواد او د کمونېزم نور ملاتړي هېوادونه هم له دا ډول تجربې سره مخ شول. زموږ موخه دا ده، اسلامي امت په نړيواله سطحه يوازې د تصميم نيولو سياسي

قدرت نه لري او له بده مرغه مسلمان حکام د غربيانو د ګټو لپاره د وسايلو په توګه استعمالېږي، ترڅو د مسلمانانو د فکري پانګې په شمول د اسلامي خاورو طبعي مواد چور کړي.

نن ورځ د يو منظم او د اسلامي امت د ساتونکي دولت په نشت کې زرګونو مسلمانو علماوو غرب ته پناه وړې او خپل علم يې د اروپا او امريکا د ساتنې او ځواکمنولو لپاره مصرف کړ؛ خو که اسلامي امت يو ځل خپلې عقيدې ته وګرځي او هغه په خپل ژوند او خپلو سياسي تصميمونو کې اساس وګرځوي، په چټکۍ سره به د نړۍ زبرځواک شي، چې په هغه حالت کې به نه يوازې دا چې د علم او تخنيک له مخې پرمختګ وکړي؛ بلکې په خپلو پاکو افکارو سره به ټول بشريت له هغه حيواني ژوند څخه، چې د عصري او مدرن ژوند، نوم يې ورکړی وژغوري.

درېيم: د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پر منهج د راشده خلافت د بيا تاسيس شعار، کومه خيالي تګلاره نه ده، چې نور ورور يې ادعا کوي؛ بلکې د الله سبحانه وتعالی د حکم په امر، چې د ټولو کايناتو او بشريت خالق دی تر سره کيږي. هغه سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾**

[حجر: ۹]

***ژباړه:*** *موږ قران نازل کړی او موږ يې پخپله ساتونکي يو.*

په حقيقت کې که د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سيرت مطالعه کړو، پکې مونډلی شو، چې هغه صلی الله عليه وسلم په خپل عملي ژوند کې د دولت د تاسيس طريقه ښودلې ده، تر څنګ يې خلفاوو د دغې طريقې پيروي کړې او عملي کړې يې ده او الله سبحانه وتعالی هم د دغې طريقې د ساتلو ضمانت کړی دی. الله سبحانه وتعالی خپل پيغمبران په هر وخت کې د بشر د لارښوونې لپاره را لېږلي دي، ترڅو دوی ته له قيامت څخه خبر او د جنت زيری، چې پراخوالی يې د ځمکې او اسمانونو په څېر دی، ورکړي. هر چا چې دا درک کړه او ځان يې تغير کړ، کامياب دی او هر چا چې وغوښتل ناپوه پاتې شي، دا لار يې پخپله ټاکلې ده. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينا﴾**

[مائده: ۳]

***ژباړه:*** *نن ما ستاسو دين، تاسو لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مې پر تاسو پوره کړ او ستاسو لپاره مې اسلام ستاسو د دين په توګه وټاکه.*

**﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ﴾**

[نحل: ۸۹]

***ژباړه:*** *او موږ دغه کتاب پر تا نازل کړ، چې د هر شي څرګندوونکی او د مسلمانانو لپاره هدایت، رحمت او زېرې دی.*

څلورم: لکه څنګه چې د نور ورور له خبرو څخه معلومیږي، دی د حزب التحریر په اړه کره معلومات نه لري او په سمه توګه د دغه حزب پر واقعیت نه پوهېږي. پر هغه سربېره نوموړی پر دغه حزب تور لګوي او وایي، چې دغه حزب علمي او دقیق لید نه لري. په رښتیا چې انسان د هغه څه دښمن دی، چې په اړه یې نه پوهیږي. حزب التحریر هغه حرکت دی، چې د دغه امت واقعیت یې په دقیق او څرګند ډول مطالعه کړی او اسلام یې په سیاسي بڼه پېژندلی او وروسته یې تصمیم نیولی، چې څه ډول په نړۍ کې د اسلامي عقیدې پر اساس بنسټیز بدلون راولي. دغه حزب د عامه پوهاوي لپاره په بېلابېلو لکه:د دولت دارۍ نظام ، اقتصاد، داخلي سیاست، بهرني سیاست او نورو برخو کې کتابونه لیکلي دي او د دغه حزب غړي د راشده خلافت د راوستلو لپاره په خپلو فعالیتونو کې شپه او ورځ په نه ستړې کېدونکې بڼه مشغول دي.

په پای کې د نور ورور لپاره زما نصیحت دا دی، د تش په نامه دیني حکومت اصطلاح غربي منشا لري او هغه تجربه شوې، چې د غربي مفکورو تولید ده او په اسلام کې اصلا ځای نه لري. اسلامي دولت هغه دولت دی، چې د مسلمانانو په واسطه د دوی د چارو د تنظیم لپاره د اسلامي شریعت پر اساس تطبیقېږي او حاکم افراد د رعیت له مسول پرته پر نورو لوړتیا نه لري. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«إِنَّمَا الدِّينُ النَّصِيحَةُ، إِنَّمَا الدِّينُ النَّصِيحَة» قِيلَ: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ»

(روا احمد)

***ژباړه:*** *دین نصیحت دی، دین نصیحت دی. اصحابو وویل: د چا لپاره؟ هغه صلی الله علیه وسلم وویل: د الله سبحانه وتعالی، د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم، د هغه د کتابونو، او د مسلمانو مشرانو او د دوی د رعیت لپاره.*

په پای کې له نور ورور څخه غواړم، ترڅو له موږ سره ووینې او کومو معلوماتو ته چې اړتیا لري، په مخامخ ډول یې له موږ څخه واخلي، نه له هر کس او نا کس څخه، ترڅو له حقیقته خبر شي. موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو، چې هدایت مو کړي او د خپلو ویناوو د عمل توفیق راکړي.

**لیکوال: ابراهیم عثمان ابو خلیل**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي ویاند**

۱۴۳۹هـ ق، د محرم ۱۴مه

۲۰۱۷م، د اکتوبر ۴مه

ژباړن: منصور دریځ